وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

۴صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

۶ پوسته امنيتي رژيم كابل درپروان تخريب گرديد

پروان - انا :
راپورهاي واصله ازولايت پروان - كاپيسا حاكي است : كه مجاهدين آن ولايت به تاريخ ۲۷ سنبله پوسته هاي به اصطلاح امنيتي مستقر درمربوطات ولسوالي جبل السراج راهدف سلاحهاي ثقيل قرارداده ۶ پوسته راكاملاتخريب و چهارتن از نظاميان رژيم را به قتل رسانيدند .
گزارش مي افزايد : كه رژيم كابل جهت تلافي مناطق مسكوني را هدف سلاح هاي دوربرد وثقيل قرارداده خسارات زيادي براهالي منطقه واردنمود .
هم چنان آژانس خبررساني ميديا گزارش مي دهد كه مجاهدين به تاريخ ۱۸ سنبله طي عمليات گسترده شان بالاي كندك (۱.۱) خاد وفرقه ۴۰ ولسوالي بگرام يك پوسته رافتح وتعداد زياد ازمليشه هاراهلاك وزخمي نمودند .
راپورمي افزايد : طي اين نبردبك تن ازقوماندانان مليشه هابنام محمدقسيم با هفت تن ازافرادش باسلاح دست داشته شان به مجاهدين پيوستند . طبق راپور به مجاهدين كدام آسيبي نرسيده است .

الهي لارښوونې

لوي خداي جل جلاله فرمايي :
اي مؤمنانو! كله چي تاسي پخپلومينځوكي پټې خبري كوي ، نودگناه اوتيري اوله پيغمبر نه دسرغړاوي خبري مه كوي ،بلكي دتقوي اونيكي خبرې وكړي ، اوله هغه خداي نه ويريدونكي اوسي چي په حشركي دهغه حضورته ستاسي وړاندي كيدل دي.
المجادله (۹) آيت

شماره مسلسل (۳۷۹) سال چهاردهم ،شماره (۷۵)سه شنبه (۲)ميزان ۱۳۷۰ هـ .ش-(۱۶)ربيع الاول ۱۴۱۲ هـ.ق- (۲۴)سپتمبر ۱۹۹۱م

مولوي محمديونس خالص دافغان نيوز ايجنسي دخبريال سره په مركه كي:

په روسيه كي دروسانوسره زمونږ خبري نشي كيداي

دروان كال دوري دمياشتي په اته ويشتمه نيټه مولوي خالص دافغان نيوز ايجنسي سره په يوه مركه كي وويل:
اوس روسان غواړي داسي لاريپداكړي چي ځان افغانانو اونړيوالو ته دافغانستان په ستونزه كي دخيل وننه نيي اوداسي ښكاره كوي چي گواكي دستونزه دافغانانو ترمينځ جگړه وه اوموږ بوازي دجگړې يوي خوا ته يعني دكابل رژيم ته مرسته وركړي اوس نوردمسئلي سره كار نه لرو له هندي امله روسان زياريباسي چي له مجاهدينو سره ددوستي لاره خلاصه كړي.
روسانو څكه مجاهدينو ته دعوت وركړي چي ځان يوبي طرفه هيواد وښئي اولكه څنگه چي نورو هيوادو ته څي راځي نوروسيي ته دي هم ديو بي طرفه هيواد په توگه ورشي.
دروسانو دايلنه به دري نتيجي ولري:
۱ - روسان به دافغانستان دگاونډي هيواد په توگه حق ولري چي دافغانستان په راتلونكي كي په مستقيم ډول لاس وهنه وكړي.
۲ - په كابل كي مزدوررژيم به بي په رسميت وپيژندل شي .
۳ - هغه پول قراردادونه ،پورونه اولگښتونه چي روسانو كابل رژيم ته وركړي هغه به دراتلونكي حكومت په غاړه وي څكه موږ وايو چي اوس روسانوسره ددوستانه تگ راتگ معاملي دافغانستان ملت سره نه ښايي اوبياكله چي اسلامي حكومت جوړشو بيا به پدي هكله تصميم نيسو.
كه څوك وايي چي دجگړې په پاي څوك خبردي ،موږبي هم منو، خوداپه دي معنى نه ده چي روسي ته به ورځو داكار زمونږ دعقني نه مخالف دي ددښمن كورته هغه څوك ورځي چي متجاوز وي . روسان متجاوز دي نوروسان بايد موږ ته راشي اوشرعا هم داكار جواز نه لري ولي دامكنه ده چي دافغانستان دقضيي ديوه عادلانه حل لپاره پريوي مشخصي احنا باندي له روسانو سره دناسي توافق وكړو اوبو عادلانه هيئات موږه مينځ كي دي اوداخبري بايد په يوه دريګړي هيوادكي ترسره شي.
ترڅوچي ديوه عادلانه حل زمينه نه وي مساعده شوي روسانو سره ناستي روسانو ته سرټيټولو معنى لري.
مولوي صاحب زياته كړه:
زه دجهادي مشرانو ته خواهش كوم چي پردي نازك وخت كي په احتياط سره قدم كيږدي اوپه جهاد باندي تجارت ونكړي له روسانو سره به زمونږ دخبرو بوشرط داوي چي مجاهدين به بوهنيت تاكي اودخبرواجندا اومشريه معلوم وي .
مولوي صاحب زياته كړه چي ددي كار له پاره دمجاهدينو وحدت تر هرڅه زيات ضروردي موږ مجاهدين هغه چا ته وايو چي نه دغرب ترتاثير لاندي راغلي وي اونه دايران.
ايران همدااوس عملاً زمونږ دپوهالي اووحدت مخه نيسي اوفاصلهزياتوي.

جنگ شديد بين رشيد دوستم وجمعه اخك جريان دارد

قرارراپور هاي واصله از ولايت جوزجان ،جنگ شديدي بين مليشه هاي رشيددوستم قوماندان مليشه رژيم كابل وعساكر تحت فرماندهي جمعه اخك قوماندان زون شمال در علاقه يمان اين ولايت در جريان است . رشيددوستم درشبرغان وجمعه اخك در بلخ موضع گرفته ، راه زميني بين شبرغان وجوزجان مسدوداست ، رفت وآمد توسط هواصورت ميگيرد .
درراپور علاوه گرديده كه درجريان اين برخورد برعلاوه كشته هاي ديگر برادررشيددوستم كه تحصيل كرده شوروي دررشته انجنيري است نيز بقتل رسيده ، گفته مي شودكه اختلاف بين دوستم واخك وقتي بروزكردكه دوهزار مليشه دوستم توسط اخك به خوست فرستاده شده وبعدا تمام آن درجريان جنگ خوست اسير، كشته و يامفقودالاثر اند . راپورعلاوه مي كند كه تلاش حكومت براي صلح بين اين دوبي نتيجه مانده است .

۳ نفر مليشه مسلح در ولايت فارياب به مجاهدين پيوستند

فارياب - ميديا
به اساس گزارش هاي رسيده از مجاهدين ولايت فارياب ۳ نفر مليشه هاي مسلح آن ولايت به تاريخ ۲ سنبله با فاميل هاي شان به مجاهدين ولسوالي شيرين تگاب پيوستند .
گزارش مي افزايد : تسليم شدگان كه دريك كندك وچندين پوسته امنيتي مناطق مرجغان -ولغمان كه در ۱۵ كيلومتري شمال شرق ولسوالي شرين تگاب موقعيت داشت بادوتن از قوماندانان شان هريك نجيب الله وعبيدالله به مجاهدين پيوستند.
در راپور ذكرگرديده كه اين مليشه ها ۱۵ ميل سلاح خفيف و ۱۵ ميل سلاح ثقيل را با مقادير زياد مهمات باخود آورده اند. گزارش مي افزايد كه درين اواخر تعداد زياد ازمليشه ها وعساكر رژيم كابل درتلاش اند تا بااستفاده ازعفو عمومي مجاهدين خودرابه مجاهدين تسليم نمايند.

دملحد رژيم يوه تعرضي حمله په شاوتمبول شوه

كندهار - ميديا :
دارسيدلو رپوټونو له مخي دكندهار ولايت زړه وړو مجاهدينو ددښمن پرهغوقواووچي غوښتل تي دروان كال دوري دمياشتي په اتلسمه نيټه دكوتل مورچه اوميان كوه په سيمو كي دمجاهدينو پرمركزونوباندي تعرض وكړي سخت گوزارونه وركړل چي ددښمن يوزيات شمير عسكراوصاحب منصبان مړه اويوشمير بارورونكي موټرټي له مينځه يوړل شول اودغه قوه ئي بيرته شاتگ ته مجبوره كړه.
ديوبل رپوټ له مخي مجاهدينو په همدغه نيټه دكندهارهوائي دگرڅيلودرندو وسلو تربريدونو لاندي ونيو چي دهغي په ترڅ كي درژيم يوصاحب منصب اوڅلور تنه عسكروژل شول .
همداراز دمجاهدينو ددرندووسلو پرېزو سره چي دمردكلا پريوځي قرارگاه ئي وكړل ددغو ډزوپه اثر ددښمن يوه دمهماتو ديپو له مينځه يوړل شوه رپوټ زياتوي چي په دغه عملياتوكي يو جيب موټر مجاهدينو دغنيمت په توگه ونيو .

ځني فلسطيني مشرانو دامريكا اواسرائيلو پيشنهادونه ردكړل

دوري ۳۱ نيټه :
په شام كي دځيني فلسطيني ولو مشرانو دمنځني ختيځ دحل لپاره دامريكي پيشنهادونه ردكړي دي .
فلسطين دخپلواكي غورځنگ ددريو ډلگيو مشرانو دامريكي دبهرنيوچارو وزير هغه پيشنهادونه چي دمنځني ختيځ دسفر په لړكي چي كړي وو بي ځايه وبلل دوي وېل چي دوي دامريكائيانو اواسرائيلو دهغو كوششونو مخالفت كوي چي دوائي دفلسطينيانو نمايندگي به څوك كوي اوپه دي بي ټينگاروكړ چي پي ، ال ، اوبايد په خپلو خبرو كلك ولاړوي . په دغه ډلگيو كي ديموكراتيك اوعوامي محاذهم شامل دي .

شوراي ملي فلسطين درشهر الجز يره تشكيل جلسه داد

۱ر۷ر۱۳۷ :
نمايندگان فلسطيني براي شركت درجلسه مهم شوري ملي فلسطين كه قراراست امروز در الجزاير افتتاح شود وارد الجزيره گرديدند. جوربحث اين شوري كه پارلمان فلسطينيان درتبعيد شمرده مي شود روي اين امراست كه آياپيشنهادات براي تدويريك كنفرانس صلح عرب واسرائيل راكه فعلا براي سال آينده مسيحي درنظرگرفته شده تائيد نمايند ويانه .
انتظارمي رود كه بيش ازچهارصدوپنجاه نماينده دركنگرس ملي فلسطين شركت نمايند . قراراظهارمنابع فلسطيني در الجزاير جلسه شوري ملي فلسطين سه روز ادامه خواهد يافت .

رئيس جمهورگرجستان بانماينده عناصر مخالف ملاقات نمود

رئيس جمهورگرجستان درتحت فشار هاي روزافزون كه يابازوظيفه استعفا بدهدبانماينده عناصرمخالف ملاقات نموده است اوبيا كمسخوردبا رئيس جمهورگرجستان روزيكشنبه باتيوزوياتشويلي يك رهبر جناح مخالف درپارلمان مذاكره كرد .
گزارش هاي خبري حاكيست كه انها درباره دايرساختن جلسه اضطراري پارلمان براي غور برانتخابات عمومي تازه مذاكره نموده اند . اين ملاقات بعدازآن صورت گرفت كه قواي مسلح جناح مخالف مقر تلويزيون را درتفليس متصرف شدند و كمسخوردبا را مجبورساختند تا ازطريق يك تلويزيون مخفي خواستار حمايت شود . قواي مخالف حكومت ميگويند : بعضي اعضاي گارد ملي موافقه كرده اند تا درمساعي براي سرنگوني رئيس جمهوركمك نمايند .

سرمقاله

بنام نطابكه بي اندازه مهربان نهايت بارحم است

سرتاسري عمليات، دنړيوال ښكيلاك دگردو دسيسو چيلنج

كه دخپلي قرباني بهمراويبا دجهاد تاريخ ته وگورو، نواسلامي تحريك پرخپل خلاقانه استعداد هيڅكله هم دابون سريدوته نه دي پرينبي ، اوكه ددښمنانو دهرارخيزو چلوترله كيله كله ناكله دكوم معمولي اغفال ويره راپيداشوي، نوهغه بيا دشهادتونو دهمدغي سرخيل كاروان له خواپدومره انقلابي شدت ورغبرگه شوي، چي شور، رعب اوپرتم بي داستكبارماني لرزولي دي . لبري به نه ځو، څه وخت رومبي چي دروسانو له وتلو وروسته لويديزي نړي زمونږ جهادپسي داسي زهرجن تبليغ پيل كړ، چي گواكي لاسپوڅي رژيم ځواكمن اوودادي، دسره پوځ له انخلاووروسته بي هم خپل حالت عادي وساته ، نورنوبايد هغه پدي زيره كي ديوه لوري په ډول خپل رسمي اوقانوني تشخص ترلاسه كړي . دمايوسي اونهيلي پدي سخت وخت كي همداحزب ؤ، چي پرخپل ابتكاريي گوداگي حكومت ته دهغه پخپل لاس سوك وركړ، داسي سوك چي تراوسه بي هم دردندي ارام شوي، اوپدي توگه بي داسلام دښمنانو ته جوته كړه ، چي نه يواځي داچي داغلام رژيم دمجاهدينوترسختو بريدونو لاندي دي، بلكي دهغي مسخ شوي دودخپل ځان دننه چنجي كړي، اوپدي دواړو صورتونو كي دمجاهدينو په وړاندي كوم دوادورډريغ نشي لرلي، خومتاسفانه چي هغه وخت هم ځيني جهادي حلقي ددښمنانو دمرگاني پروپاگند تراغيزي لاندي راغلي ، اوددي پرځاي چي ددښمن پرضددا كمزوري كوونكي اوخپونكي عمل بدرگه كړي، پداسي څه ويلو سرشول، چي زمونږ ددښمنانو له دريځ سره بي تگلاري هيڅ توپيرنه لاره اوهمداكوتاه انديشي وه ، چي دنجيب دگوداگي رژيم دژوندشيبي بي ترنن ورځ پوري را اوږدي كړي .
په روس كي ځرگنداوبشتون اوزموږ دجهاد محتوم بريالیتوب دنړي په جغرافياكي دافغانستان حساس موقعيت ته دښكيلاكي نړي پام بوپه دوه كړ، اوله دي ويري چي آزاد اسلامي افغانستان له سعودي نه تريتگاله داوردي اسلامي ليكي دتوصل اونبلوني انقلابي نقطه نشي، نوترتولو رومبي دنړيوال كفرله خوادجهاددمشيتو نتايجو دگډوډولو لپاره د"سياسي حل" چلونه پلي شوه ، اوځيني گاونډي هيوادونه دخپلو قطري شومو اغراضو له كبله ددي پروسي تعميل ته رهځول شول او پدي لاركي دول دول پروپاگندونه ، سفرونه اوغونډي پيل شوي . خودنړيوال كفر دسايسو اوتوطيو ته پيش بيني مجاهدينو داهرڅه په هيوادكي دسرتاسري عملياتو دپروگرام په اعلان چيلنج او مستردكړل، اوپدي توگه بي بوځل بيا گردي نړي ته جوته كړه ، چي دسري اميراتوري اوگموتيزم قاتحين پخپله دخپلو ستونزو

درولايت لغمان پنج عراده وسايط نظامي رژيم به آتش كشيده شد

طي عمليات مجاهدين قهرمان وكفرشكن ولايت لغمان بالاي پوسته هاي رژيم پوشالي كابل كه بتاريخ ۲۵ سنبله صورت گرفت دوعراده تانك محاربوي وسه عراده موتر نظامي دشمن به آتش كشيده شد ودوتن ازصاحب منصبان خودفروخته با سه تن از مليشه رژيم بدنام كابل رهسپارجهنم گرديد.
درخبرعلاوه مي گردد : رژيم مزدور ودست نشانده كابل با استفاده ازطيارات بلندپرواز وانداخت هاي سلاح دوربردخويش مناطق مسكوني ،قريه سلطان وباتي خيل راشديدا هدف بياردمان وپرتاپ سلاح ثقيل قرارداده ويراي اهالي بيدفاع خسارات زيادي راببارآورده است.

۸ تن ازافراد رژيم ملحد درولايت لوگر هلاك گرديد

لوگر - انا
طي يك عمليات مجاهدين لوگر كه بتاريخ ۲۴ سنبله بالاي پوسته هاي چارآسياب صورت گرفت ۸ تن از افراد رژيم پوشالي كابل هلاك ۱۸ تن ديگر شديدا زخمي گرديد.
درخبراضافه مي شود كه كه درين عمليات ۵ ميل كلاشينكوف ومقاديرزياد مهمات به غنيمت مجاهدين قرارگرفت.

دارمنستان خلكو دخپلواكي په پلوي رايه وركره

ارمنستان دوري ۳۱ نيټه :
دشوروي په ارمنستان جمهوريت كي دآزادي غوښتني دپوښتني په سرپيغرندم پاي ته ورسيد بهرني مبصرين وائي چي رايه اچونكي په ډيره خوشحالي سره درايو اچولوځايونو ته وتلي وو . اوپه ډيرواحساساتو سره بي رايي وركړي .
كه څه هم تراوسه درايو پوره شميرمعلوم نه دي ولي عام نظر دادي چي دخپلواكي په طرفداري ډيري رايي رابي لويدلي دي اواكثرورااي اچونكو دخپل برياليتوب جشنونه جوړكړيدي دمعلوماتو له مخي دارمنستان ۸۰ فيصد خلكو دخپلواكي په حق كي رايه وركړيده .
درايوله حكومتي اعلان څخه وروسته به دارمنستان پارلمان دخپلواكي اعلان وكړي .
تراوسه پوري دشوروي ديتڅه لسو جمهوريتونو څخه دوولس جمهوريتونه باخودآزادي اعلان كړي اويابي داسكاره كړي چي دوي دشوروي څخه بيلبدل غواړي

دوپوسته مستحكم دشمن درخورد كابل فتح گرديد

كابل - افغان نيوزايجنسي :
به اساس گزارش هاي رسيده ازولايت كابل مجاهدين منطقه خوردكابل طي عمليات موفقانه شان به تاريخ ۲۵ سنبله دوپوسته مستحكم رژيم رادرمنطقه خوردكابل فتح نمودند .
راپورمي افزايد درين عمليات ۳۵ نفرازعساكر رژيم مسلح به مجاهدين پيوستند، دوعراده تانك محاربوي نيز هدف راكت قرارگرفته حريق گرديد .
منبع مي افزايد كه ازافراد دشمن تعداد زيادي كشته وزخمي گرديدند .

نمايندگان ارمنستان وآذربايجان درخاتمه دادن به منازعه نگورنوقره باغ مذاكره مي نمايند.

۱ر۷ر۱۳۷ :
نمايندگان جمهوريت هاي ارمنستان وآذربايجان همراه بانماينده منطقه مورد منازعه نگورنوقره باغ روز دوشنبه درباره خاتمه دادن به منازعه ديرينه شان مذاكره نمودند .
بوريس يلتسين رئيس فدراسيون روسيه ونور سلطان نظربايوف به حيث ميانجي كارخواهند كرد . دراين مذاكرات كه درجنوب روسيه دايرميگردد چوكات يك كنفرانس آينده صلح پي ريزي خواهدشد .
رهبرروسيه ميگويد : صرف يك عمليه طولاني ومسالمت آميز مذاكرات منازعه كنوني نژادي راحل كرده ميتواند يلتسين به همراهي رهبرقزاق روزيكشنبه وارد ايروان مركز ارمنستان گرديد .

جرمني فروش اسلحه را به پاكستان قطع نمود

صفحه (۴)

عمليات بزرگ و هماهنگ مجاهدين برمراكز نظامي دشمن در كابل علي الرغم تبليغات ناجوانمردانه دوستان اجراخواهدشد

سخن روز

دنجیب رژیم دبچاووروستي هڅي

(حساني)

زموږ دمجاهدملت دقهرمانانه مقاومت په وړاندي دروسي ژبرځواك په ګونډوکېدوسره داخبره ښکاره جوته شوه ، چي نوردنجیب دلاسپوڅي رژیم پاتي کېدل محال دي که ژروي اوياوبري تودنجیب تسکروېدل يوه حتمي خبره ده . ددي ترڅنګ داخبره هم په واګه وه چي په افغانستان کي به دنجیب دکمونست رژیم ځاي دمجاهدینو په لاس جوړشوي اسلامي حکومت نیسي، داسي حکومت چي دهراستعماري ځواك له ټوماندي نه خپلواك اوخپلي ارادي په اساس په داسلام اوملت دګټوپه بناخپل داخلي او بهرني تګ لوري ټاکي اودخپل اولېدیځ دمداخلي لاسونه به وړلنډوي هماغلت وچي دروس په ماتي سره دامریکا په سرمداري ګیږکلري ، تپمه کفري اومزدوروپه نامه اسلامي هېوادونو دګډسازش په اساس د"نجیب بچاو" تحریك پیل شو، ترڅو په دي کارسره داسلامي حکومت دجوړېدو مخه ونیسي، چي دټولو استعماري ځواکونو دشومو هیلو په وړاندي لوي خنډدي .

داخبره دهېچاله یاده نه ده وتلي چي کله دنېړوالو دتصورخلاف سوروځ په ځرپسرزموږ له پاکي اسلامي خاوري نه ووت نو په مختلفو محاذونو کي دمجاهدینو په خلاف کارپیل شو، دجګړي په وګرکي نه یوازي داچي روسانو دخپل پوځ پاتي وسله دکابل مزدوررژیم دعسکروپه واك کي وروکړه ، چي نوري عصري وسلي اوونږونکي سکاد اواوراګان توغندي اوجنګي الوتکي یې هم ورته وسپارلي ، سربېره پردي یې دبشري کمکونوپه نامه دملګرو ملتوله لاري غربي مرستي هم ورته پیل کړي . په مقابل کي لویدیځو هېوادواوځینو په نامه اسلامي اوناپېلیو هېوادو چي تربرونه پوري یې دمجاهدینودمظلومیت په پلوي غږپورته کړي و، دمجاهدینو په خلاف تبلیغات پیل کړل . دوژونکو اوتروریستانو څخه واخله ان دهېرئینو ترقاچاق پوري هرډول ناروانوروونه یې پري ولګول، ګردتبلیغاتي چینلونه یې توظیف کړي ووچي داسېلو افغاني مجاهدینو په خلاف پروپاګند وکړي ترڅوپه نړیواله سطحه ملاتړله لاسه ورکړي له بل پلوه یې نجیب موظف کړچي دسولي په نامه یوپه بل پسي پیشنهادونه وړاندي کړي ترڅو په دي کارسره یې هغه وحشي اومزدوره څېره پټه شي چي کلونه کلونه یې دافغان مسلمان ولس وینې ژبښلي ، هېوادیې په کنډواله بدل کړي، په ملیونو خلك یې په هجرت کولومجبورکړي دي ، خودي هیڅ شي نتیجه ورنکړه . نه روسي پوځي مهماتو نجیب دمجاهدینو په وړاندي حمایه کړای شو اونه غربي تبلیغاتي چینلونو اونه هم دځیني اسلامي هېوادونو ارتباطاتو اوراشه درشه . لنډه داچي دپلان لومړي مرحله تقریباً بې نتیجې پاي ته ورسېده .

په دوهمه مرحله کي نجیب هڅه وکړه چي ځان له کمونېزم نه بېګانه وښيي ترڅو په ملت کي ځاي پیداکړي ، دخلق دموکراتیك ګوند نوم یې په وطن ګوند بدل کړ، په اساسي قانون کي یې په خپل فکرتغییرات راوستل، ځیني مزدوري څېري یې دغیرګوندي څېروپه نامه په حکومت کي ګډي کړي، پخپله نجیب راډیوېي اوتلویزیوني ؛ وینا یې په بسم الله ، ځیني قرآني آیتونو اوحدیثونو پیل کړي . په مقابل کي امریکا اوانګېرالانو یې نه یوازي دمجاهدینو په خلاف تبلیغات تشدید کړل بلکي مرستي یې هم بري بندي کړي اوه یوشمېر پخوانیو فاسدو څېرومېدان ته راوستل یې پیل کړل ، چي دنجیب اومجاهدینو دمنګګېږپه حیث یې دواکمني په ګدي کېنوي اوداسي حکومت جوړکړي چي نه اسلامي وي، نه کمونستي یعني یومعجون مرکب کمزوري حکومت وي چي یوازي دپردېو ، په ځانګړي توګه دامریکا په اشاره تاڅي اوبس . په دي کارکي ځیني اسلامي هېوادونه په خاصه توګه ایران هم دنجیب دپلانونو ملاتړي و خوددي ټولو سره سره مجاهدینو بیاهم دپخوا په شان خپل جهادته دوام ورکړ اوداعهدیې ځوځو ځله نوي کړ چي په افغانستان کي دنجیب دحکومت ترنسکورېدو اوپرځاي یې دمجاهدینو داسلامي حکومت ترجوړېدو پوري به وسله په ځمکه نه ږدي هماغوي هرو وچي مجاهدینو یوپه بل پسي بري ترلاسه کړل، دافغانستان په شمال اوجنوب کي یې ګڼي ولسوالي اوعلاقداري اوولایتونه فتحه کړل، دکابل دفتحي امکانات هم پوره ځرګند اونجیب دپاتي کېدو امکانات ورځ په ورځ ورکېدونکي ووچي، د " نجیب بچاو" تحریك ووروستي مرحله چي دامریکا په اشاره دملګرو ملتو دعمومي منشي له خوا پنځه فقره ایزه طرحه ده پیل شوه ، پدي طرحه کي دبین الافغاني دیالوګ په غوښتنه کي دنجیب رژیم ته دیوپرحق طرف حیثیت ورکړل شوي دي که څه هم دغه طرحه ظاهرا ډېره ژوره دوونکي ښکاري ولي په دلیقه مطالعه سره معلومیږي چي دمجاهدینو ۱۴ کلني هلي ځلي ابته کوي ، له هندي امله دټولو جهادي تنظیمونو له خوا ردداوپاتالص وبلل شوه . داپلان لادبحث په مرحله کي و، چي په روسیه کي دمحافظه کارانو کودتا اوورپسي دهغي دناکامي په وجه هېرانوونکي بدلونونه رامنځته شول، دکمونېزم په نظریه دبطلان خط راوکښل شو، دمرکزي اقتصادپه ځاي دآزادبازارپلانونه په کارولېدل، دشوروي محکومو جمهوریتونو یوپه بل پسي خپلواکي اعلان کړه ، لنډه داچي شوروي له داسي بحران سره مخامخ شوچي نور دنجیب له حکومت سره دمرستي لپاره په هیڅ صورت هم تیارنه و، نه شرایطوداایجابوله چي له نجیب سره مرسته وکړي اونه هم اقتصادي وضعې ، په دي حساب دنجیب درژیم دنسکورېدو امکانات پوره دوه شول، نه یوازي دشوروي پوځي اواقتصادي مرستي بندي اوپاکمي کړي شوي بلکي دنجیب په پوځ کي داسي ویره اووارخورشو هرڅوك هڅه کوي ځان په یونه یوډول دمجاهدینو حامي وبولي اوپالوترلرو له هېواده ځان وباسي، دراتلونکي ژمي دقحطي اوېښتي له وېري هره ورځ په سلګونو خلك له کابل نه کډي باروي، دخلق اوپرچم ډلو اختلافات ، دملیشو اوعسکرو ترمنځ اخ ووب ، دېپرك اونجیب دپلویانو خپلمنځي جنجال.او په کابل کي دمامورینو ترمنځ دسختي بې اعتمادي فضاټول هغه څه دي چي دنجیب ووروستي شیبي رانږدې کوي، اوکېداي شي دمجاهدینو دیوي منظمي حملي سره کابل سقوط وکړي . له دي سره سره چي نجیب دپاتي کېدوهیڅ چانس نه لري ولي امریکا لګیاده هڅه کوي چي نجیب په همدي حال ژوندي وساتي ترڅویې بدیل پیداکړي . امریکادوسلو دبندېدلو لپاره دري میاشتني وخت دهمدي لپاره پرروس تحمیل کړ چي نجیب په پښو ودرېږي اوامریکا دخپلوپلانوتطبیق لپاره څه وخت پیداکړي چي وکړلاي شي دنجیب، ظاهرشاه اوپه اصطلاح اعتدال غوښتونکوجهادي ولوترمنځ دسولي په پروګرامونوخبرواتروپه نتیجه اوملګرو ملتوپلان له مخي دوي په اصطلاح دبنیادګرو مجاهدینو په وړاندي یوه ګډه جبهه جوړه کړي ، اوکه فرضاً بیا انتخابات هم کیږي چي نجیب ظاهرشاه اواعتدال غوښتونکي، باپه بل عبارت دسیکولر حکومت

څ ۳

دروس اوامریکا دوسلو دبندیزپریکړي لړلیدته یوه کتنه

فدا محمد فایض

دمسکو داګست د۱۹ مي نېټي دناکامي کودتانه ووروسته دالومړي ځل ؤچي دامریکا دبهرنیوچارو وزیر دسپتمبر ددوېمي لسیزي په پیل کي دمسکوته سفروکړ ترڅو دروسیې حالات له نږدې نه وګوري مګر ددي سفرپه ترڅ کي یوه داسي پریکړه هم وشوه چي هیڅایې پیشبیني نشواي کولاي . داپریکړه پرمجاهدینو اودکابل په رژیم دوسلو دبندولو پریکړه وه. په دي پریکړه کي چي دسپتمبر په دیارلسمه نېټه ددواړو هېوادو دبهرنیو چارو دوزیرانو له خوادیوي ګډي اعلامیې په ترڅ کي اعلان شوه ، ویل شوي چي د ۱۹۹۲ م کال دجنوري له لومړي نېټي نه به عملاً پرداوروخواووسلي بندي شي که څه هم چي زیاتروخلکوداپریکړه یوه ناڅاپي پېښه وګڼله ، خوپه حقیقت کي داسي نه ده . دادواړه استعماري هېوادونه هیڅکله هم داسي پریکړي نه کوي چي دخپلو مسئو لو مقاماتو اودچارودڅانګوالو (متخصصینو) له خوابې دهغي مسئلې پوره جاج نه وي اخستل شوي اوخپلي ګټي یې پکي په پام کي نه وي نیولي . دي کي شك نشته چي روس خوپه نړیواله نظامي مقابله کي ځملاست اوداسي ځملاست چي بېرته راپورته کېدل ورته ډېرګران دي، لیکن داخبره هم په پام کي ساتل په کاردي چي دروسي امپراتوري زوال له کوم ځایه پیل شو؟ که امریکا اویاغربي اندېوالان یې دادخپل زوروبرکت ګڼي مبالغه آمېزه به ښکه وي چي روس اوامریکا خودوېتنام په اوږده جګړه کي ښه ښکرېه ښکرشول مګرامریکا داسي ماته وخوړه چي خپل مړي یې هم خپل هېوادته رانه وړاي شول . یې له شکه دروس ماته اونړېواله رسوایې دهغه ببوزلي، تش لاسي خومومن ولس دتوري دشرنګ اوپاکوویښو دنذرانه کولو برکت دي چي ترددي دمخه یې دري ځله پېرنګیانوته نه هېرېدونکي سبق ورکړي ؤ داسي سبق چي له دي ګردي سیمي ته دپیرنګي ښکېلاك دتګروتولېدو لامل شو . دروسي ښکېلاك ماته هم دپیرنګیانو ماتي ته ورته یوه ماته ده بلکي دالاداتګرېزانو له هغي ډېره سخته ماته ځکه روسانو پرته له دي چي خپلي مستعمري یې له لاسه ورکړي پخپله سره امپراتوري هم ددړي وړي کېدو اوویش په درشل کي ده .چي دبالتیك دجمهوریتونوخپلواکي یې پېلامه اودروس ترولکي لاندي نورو جمهوریتونو دخپلواکي اعلانونه یې ادامه ګڼو .

دوسلو دبندولو په پریکړه کي دروس اوامریکا نیت ښه تراځرګنددي . که څه هم چي زموږله هېوادنه دپردېو لاسونو دلنډېدلو په اړه دایونیك اقدام دي، خوحقیقت دادي چي امریکا لا روسي پرمجاهدینو خپلي مرستي بندي کړي دي امریکاچي له څه سره مینه لرله هغه کاروشو ، روسان په ګونډوشول ،دوارسا ترون رنګ شو، دختیزي اروپا هېوادونه آزادشول ، دکمونیزم یوت دړي وړي شو، دکمونیزم دبنستګرانو مجسمي رانسکوري کړاي شوي اودامریکا لپاره ترټولو په زړه پوري داچي روسانواعلان وکړ، چي له کیوباته به هم خپلي قواوي راوباسي . نوپه داسي یوه حالت کي خونجیب امریکاته نه یوازي داچي کوم خطرنه دي بلکي په کابل کي دنجیب تېنګښت دامریکایوه عمده ارتیا هم ده ، ځکه ځرګنده ده چي دنجیب دراپرځېدوپه صورت کي به دافغانستان سیاسي واګي دمجاهدینو لاس ته ورځي اوامریکاچي له څه نه ویرېږي هغه په نړي کي دیوه ریښتیني اوسوچه اسلامي حکومت رغاونه ده ځکه اسلام یوه نظریه اویونظام دي داسي نظریه اونظام چي لویدیزه پانګوالي اودیمکراسي یې دړوندانه په یوه برخه کي هم بدیل نلري اویاالإخره به لویدیزداسلامي نظام پروړاندي عملاً هم وال پرځمکه یږدي . نن سباچي په غرب کي څومره خلك ځان وژنه (انتحار) کوي دا دلویدیځ دهغه نظام برناکامي یوښکاره اوېرلااعتراف دي .

له اسلام سره دلویدیځ دښمني څه اوسني خبره نه ده بلکي داوږو زوړاوږدتاریخ لري یوازي صلیبي جګړي یې ډېره ښه بېلګه کېداي شي اوترټولو مهمه داچي نن دامریکا اوګردلویدیځ په رګونوکي یهودي وینه چلیږي اودي مسئلي خوله اسلام سره دلویدیځ دښمني لاګرندي کړي ده . له اسلام سره دغرب دښمني دومره ژوره ده چي لویدیزومشرانو وخت پروخت پري اعتراف کړي اوپه دي باب یې ځرګندوني کړي لکه چي له کراچي نه په اردوژبه خپرېدونکي اونېزي تکبیرمجلي په یوه تازه ګڼه کي داسرائیلو دملاترواواسلام نه دکرکي په اړه دامریکا دپخواني جمهوررئیس رونالدریګن ځرګندوني لیدلاي شي . نوموري داسرائیلو دفاع اوساتنه پرامریکافرض ګڼي اواسلامي نظریه دامریکا ترټولو ستردښمن بولي دروسانولپاره هم پرکابل رژیم دوسلو دبندېزپریکړه ډېري ګټي لري .

ګورباچوف اودروس نورمشران په دي هڅه کي دي چي دروس په وړاندي نړیوال حساسیتونه څومره چي کولاي شي راکم کړي ترڅودنړیوالواقتصادي مرستي راجلب کړاي شي ځکه روس اوس له یوه لوي اقتصادي بحران سره مخامخ دي اونړیوال سیاسي کتونکي په دي ګروهه دي چي راتلونکي ژمي به دروس لپاره ډېرګران وي اوپه زیاتروسیموکي به سخته کاختي راشي . پرهمدي اساس روسانو پرغربیانو دملیاردودالرومرستي غږکړي دي .

اوس پاتي شوه داخبره چي آیا روسان به پخپله دي ژمنه وفاوکړي اوکنه ؟ پدي باب دروس نیت ته همیشه دشك په نظرکتل په کاردي ځکه روسانو هیڅکله هم په خپله ژمنه وفانده کړي . روسانو له افغانستان سره رسمي تړون لاسلیك کړي ؤ چي دافغانستان په کورنیو چاروکي به لاس نه وهي اوددي هېوادځمکني بشپړتیاته به په درنښت ګوري خودروسانو دي ژمني ته وفاداري نړیوالو د ۱۳۵۸ کال دجدي پرشپږمه پرافغانستان دنظامي یرغل به بڼه ولېده . دروسانوپه برخه کي داتثوني ارتولدخبره ډېره پرځاي ده چي وایي : روسان دخپلو ژمنو په ماتولو کي بین المللي شهرت لري . نو اوس کوم تضمین موجوددي او د ۱۹۹۲ کال دجنوري له لومړي نېټي نه اخوابه څوك ددي خبري دروغ اورېښتیا سره جلاکړي چي روسان پخپله ژمنه ټېنګ ولاړدي ؟ موږ داخبره رومبي هم کړي ده چي دروسانو داپه شاتګ دروس دشړېدلي اقتصادبرکت دي نه چي دهغه دبشردوستي ! روس اوبشردوستي دمنطق په اصطلاح دضدینو اجتماع ده اودضدینو اجتماع محاله ده .

لري به نه ځو اوهمدادژنیو موافقه لیك له لاسلیکېدونه راپه دي خوابه وګورو چي روسان څومره پخپله ژمنه ټېنګ پاتي کېداي شي ؟

د ۱۹۸۸ کال داپریل پرڅوارلسمه دروسانو ، امریکایانو، پاکستان اوکابل رژیم له خوا دژنیو موافقه لیك لاسلیك شو په دي موافقه لیك کي ترټولو لویه خبره داوه چي روسي لښکري به له افغانستان نه وځي . که څه هم به ښکاره خوروسي لښکري له افغانستان نه ووتي مګردروسانو په زرګونومتصبداران په افغانستان کي پاتي شول اوتراوسه پوري دکابل رژیم ته جنګي نخچي همدامتصبداران جوړوي اوځي دسکډ او اوراګان توغندیو ویشتل هم دهمدي متصبدارانو کاردي . روسانوغوښتل چي دخپلولښکرو دایستلو داعلان پواسطه دنړیوالو پام بل خواته واړوي اونړیوالوته داذهنیت وورکړي چي اوس خوروسان له افغانستان نه ووتل اوخبره خواوس پخپله دافغانانو ترمنځ ده بایده دي چي اوس دوي پخپله پخپلومنځوکي کېني اوخپله مسئله پخپله حل کړي .

روسان دافغاني سراسري مقاومت دپیلېدوله وخته پدي داوممن شوي ؤچي کوم خوب یې دافغانستان په اړه لیدلي ؤعملي نشو اونه یې په ګانده کي امکانات ویني. نودروسانو ټولي هلي ځلي ددي لپاره وي چي څه ډول وکړاي شي داسي زمینه برابره کړي چي نجیب ودهغه ګوند په رسمیت وپېژندل شي . څه څه چي اوس روسانوته مهم دي دافغاني کمونستانو پاېښت اود افغانستان په راتلونکي سیاسي برخلیك کي یې ګډون دي اوداخبره دروسي امپراتوري دویش دمخنیوي لپاره یوعمده ټکي دي ځکه خوسره امپراتوري غواړي دخپل ولس دلوږي په بیه هم دکابل رژیم ژوندي وساتي اوبایې دافغانستان په راتلونکي سیاست کي نقش تثبیت کړي .

روسیه اوافغانستان ګاونډي هېوادونه دي نوپردي اساس روسان کولي شي په پټه توګه افغانستان ته خپل نظامي کومکونه ووسوي اوهیڅوك یې مخه هم نشي نیولاي ان که دملګروملتوله خوا دڅارني هیئاتونه وټاکل شي هم په دي نشي بریالي کیداي چي دروسانو ددي خلاف ورزیو مخنیوي وکړي .

بله مهمه خبره چي دټولو سیاسي کتونکو پام یې ځانته را اړولي دي دادي چي که چیري روسانو اوامریکایانوپه ریښتیاهم غوښتلاي چي دافغانستان ربړه دي په یوه عادلانه ډول حل کړاي شي نوبیا ولي یې سمدستي دوسلو دبندولو پریکړه نه کوله . دلویدیزو خبرځایونو داطلاع له مخي کابل رژیم همدا اوس دومره وسلي لري چي که دروسانو مرستي پري همداشبېه هم قطع شي تراتلونکو دووکلونو پوري زیرمه کړي وسلي یې کافي دي اوپه دادري نیموپاشتو کي چي لاتاکل شوي نېټي ته پاتي دي روسان کابل رژیم ته ښي ډېري وسلي ورکولاي شي .

اوس په افغانستان کي دکمونستانو له پاېښت ، عمومي انتخاباتو اودي ته ورته مسایلو سره نسبت روسیې ته دامریکادلچسپي ډېره ده ځکه امریکایان له همدي لاري کولاي شي چي داسلامي حکومت درغاوني مخه ونیسي اوخپل زاړه لاسپوڅي دعبوري حکومت ترعنوان لاندي په افغانستان کي واك ته ورسوي .

دوېږي پر ۲۷ (داپریل پر اتلسمه) نجیب دیوه فرمان په ترڅ کي دظاهرشاه اودهغه دکورني دغړوتابعیت چي دتره کي د واکمني په وخت کي سلب شوي و بېرته اعاده کړ اودبهرنیوچارو وزارت ته یې سپارښتنه وکړه چي افغاني پاسپورټونه وروولېږي . داخبره ددي ادعابنکاره ثبوت دي چي روس اوامریکا پردي سلا شوي چي دعبوري دوري لپاره ظاهرشاه رامنځته کړي . ظاهرشاه هغه څوك دي چي هم به یې خلقیان اوپرچمیان ملاترکوي اوهم به یې دپېښوربې خاصیته معتدل مزاجه ګوندونه چي په دي توګه به اورېند منځته راشي ، عمومي انتخابات به ترسره شي اودروس اوامریکا په مرسته به لویدیځ پالي عناصرقدرت ته ورسېږي اودمجاهدینو دحکومت مخنیوي به وشي البته دمجاهدوګوندونو دیووالي نشتوالي ددي کارعملي کېدلوپروسه ګړندي کولاي شي داهغه خوب دي چي روس اوامریکا دافغانستان دګاندي لپاره لیدلي اواوس غواړي ددي خوب دعملي مصداق لپاره لاري چاري ولټوي دوسلو دبندولو په اړه دروس اوامریکا داوسني ګډي اعلامیې له خپرېدونه یوه ورځ دمخه دملګروملتوسرمنشي په تهران کي پرمجاهدینو غږوکړ، چي دملګرو ملتو دپنځه ماده ایزپلان دتطبیق لپاره پرکابل حکومت خپلي حملي بنده کړي او ددي پلان په باب یې دایران اوپاکستان دجمهوررئیسانو سره په کتنه کي داوهم ترلاسه کړ اوبیایې سعودي خوبې په ډېره آساني سره ددي کارمنلوته راضي کړي وي .

ددي ترڅنګ روسانو ځیني ملي ګراګوندونو ته بلنه ورکړي چي مسکوته سفروکړي دخبرځایونودخبرتیاله مخي به په کي پنځه افغاني ګوندونه دملي نجات جبهه، ملي اسلامي محاذ ، حرکت انقلاب اسلامي اوجمعیت اسلامي اوپه ایران کي میشت شیعه تنظیم وحدت اسلامي مسکوته سفرکوي او له روسي مقاماتو سره به دافغانستان په راتلونکي خبري کوي خبرځایونوزیاته کړي چي حزب اسلامي افغانستان ، دمولوي صاحب خالص په مشري حزب اسلامي اواتحاد اسلامي په دي بلنه کي نه دي شامل اوس نوڅرګنده ده چي روس اوامریکا څه ډول غواړي ملي ګرایان په غبرکي ونیسي اوله نجیب سره یې په یوه چرګي راغوندکړي .

اوس نوغښتنظیمونو ته چي په افغانستان کي دیوه سوچه اسلامي اوپردیو دتسلط نه آزاد حکومت پلویان دي په کاردي چي ځانونه سره نږدي اوخپلي لیکي منظمي کړي اوپردي پالوعناصروته وخت ورنکړي چي دافغانستان پرسرنوشت له نړیوال استکبارسره سازش وکړي . موږ داوه یوچي دافغانستان ملت مسلمان دي اوداجهادیې په افغانستان کي دیوه اسلامي حکومت درغاوني له پاره پیل کړي، زموږ ټول مجاهدین به دهمدي اصیلواسلامي ګوندونو ملاترکوي اوددښمنانو توطئي به شنډیږي. انشاء الله

موسسه ملل متحد باید به هویت حقیقي خودنایل آید

محمدسرورهما ...

اګرچه تاریخ تأسیس ملل متحد نظرانداخته شود معلوم میګرددکه این سازمان به اراده فاتحین جنګ جهاني عمومي دوم براي تأمین صلح جهان بوجودآمدکه حدود پنجاوپنج کشور جهان براي اولین بازدرسال ۱۹٤۵ درکنفرانس سانفرانسسکوبه آن اتفاق راي دادند . ناګفته نباید ګذاشت براي اولین مرتبه طرح این سازمان بوسیله انګلستان وامریکا ریخته شدکه رهبران آنهاپس ازشکست متحدین براي تأمین صلح وحفظ سیادت خودشان در جهان به طرح تاسیس سازمان ملل متحد متوسل شدند تاجانشین جامعه بین المللي ناکام ګردد چون ساختمان سازمان برپایه حفظ منافع فاتحین جنګ بین المللي دوم استواراست درتشکیلات سازمان شوراي باصلاحیتي درنظرګرفته شده است که پنج کشورمعظم (امریکا، روسیه ، انګلستان ، فرانسه وچین) ازاعضاي دائمي آن شناخته میشوند و یازده عضودیګرآن موقتي بوده ودرهردوسال تبدیل ګردیده وتوسط مجمع عمومي ملل متحد تعین ویه شورامعرفي میشوند که اسم شوراي مذکورشوراي امنیت ملل متحد میباشد .

مطابق ماده ۲۷ منشورملل متحد پنج عضو دائمي شوراي امنیت از حق (ویتو) برخوردار اندکه درصورت مخالفت بودن باحل قضیه اي میتوانند آنرا روګمایند پس همین پنج کشوراندکه سرنوشت مردم جهان را ته و بالا مینمایند .

شوراي دیګریکه علاوه برشوراي امنیت درمنشور ملل متحد درنظرګرفته شده است عبارت از مجمع عمومي ملل متحد میباشدکه درهرسال یکبار ترتیب جلسه داده وهمه کشورهاي عضو سازمان ملل درآن شرکت میورزند که اکثریت آنراکشورهاي جهان سوم (کشورهاي عقب مانده) تشکیل میدهد . این شورا در دستورکارخود بحث بالاي همه قضایاي جهاني را دارد اما ازنظرصلاحیت اجرائي بي ارزشترین شوري درجهان است زیرااین شوراتنها صلاحیت توصیه به شوراي امنیت رادارامیباشد اګراحیانا درجلسات آن منصوبه خلاف میل یکي از اعضاي دائمي شوراي امنیت به تصویب رسد مرعي الاجرا نبود وارزش یك ورق کاغذ سفید راهم ندارد . ممالك دیګري که درمجمع عمومي ملل غیرازاعضاي دائمي شوراي امنیت جادارند یا از دنباله روان ممالك ارشدبوده ویا از تماشاګران صحنه امروز که چهل ششمین سالګرد این سازمان بر ګزار مي ګردد رکنیت تعداد از کشور هاي که تازه به استقلال رسیده اند نیز زیربحث قرارمیګیرد که آیا به مجمع عمومي نماینده بفرستند ویاخیر جمهوریت هاي مغصوبه روسیه هم که دراین اواخر اعلان آزادي نموده اند و آن ممالك میباشد که بازهم قبول وعدم قبول آن به پنج رکن اصلي سازمان که از بنیانګذاران شناخته میشوند میباشد روسیه که یکي ازاعضاي برجسته ومهم سازمان شناخته میشد اګرمخالفت خودرا نسبت به رکنیت آنها نشان دهد به آبروي مجمع عمومي چیزي باقي نمیماند ، روسیه درسالهاي ګذشته دررقابت باامریکا برخي ازاقدامات امریکاراکه علیه کشورهاي عقب نګهداشته شده اعمال میداشت درمجمع مطرح وازاقدام سوء امریکا انتقاد بعمل میآورد وهمچنان امریکا ازعملکردهاي روسیه درقبال کشورهاي ضعیف که توسط روسیه تحت فشارقرارمیګرفتند اعتراض نموده به نمایندګان ممالك عقب افتاده جرئت آن میسر میګردید تامشکلاتي را که ازجانب یکي ازپنج رکن اصلي سازمان به آنها واردمیګردید تنها اظهار دارند ، اما امسال چهل وششمین اجلاس مجمع عمومي زماني صورت پذیراست که روسیه بااوضاع ناهنجارمملکت خویش ، دست وګریبان است ونه تنها رقیب امریکا شده نمیتواند بلکه دست بدامن امریکا دارد تا آنرا دررفع مشکلات داخلي اش یاري بخشد، ویه اینصورت امریکا را درترکتازي اش بي رقیب ګذاشته است وزمان قلدري وزورګوئي امریکارافراهم آورده است وامریکا هم با استفاده ازاین جودرهم درفکرواندیشه پیاده نمودن نظام جدید جهاني به حسب خواهش بش رئیس جمهوري امریکا است .

امروزسازمان ملل متحد کاملاً درجنګ صهیونیزم قرارګرفته است وتمام فیصله هائي که درشوراهاي سازمان ملل انجام میابد بادرنظرداشت حفظ منافع صهیونیزم میباشد .

جاي تعجب است باآنکه یهودیت منسوخ که ازتقدیم یك نظام ایده آل انساني براي رهبري جامعه خودعاجز است وپیروانش ګرفتار اوهام واساطیراند ، اخلاق ازمیان جامعه شان کاملاً رخت بسته ونظام اجتماعي درهم وبرهمي دارند اما امریکااز پیاده شدن نظام نوین جهاني تحت رهبري صهیونیزم صحبت بعمل میآورد ! یك هدف ازنظام نوین امریکائي کوچاندن اخلاق ازهمه زوایاي جهان بشریت میباشد تاانسان درسطح چارپایان تنزل نموده وجهان دستخوش بي نظمي وتشتت ګردد .

امریکا علاوه بردشمني ایکه بااسلام دارد ودرنابودي آن کوشان است ، میخواهد رهبري کلیه جهان اعم ازکشورهاي اسلامي وغیر اسلامي رابدست داشته باشد ودرآینده بجاي سازمان بین المللي موجود که درحل قضایاي جهان ناکام هم هست یك سازمان امریکائي صهیونستي تأسیس ګرددکه ازمجراي آن رهبري کامل صهیونیزم برجهان مسجل شود .

برکشورهاي اسلامي است که نګذارند کشورهاي عقب مانده زیربار امریکا قرارګرفته ورهبري جهان ازآن امریکا شود . براي رسیدن به این مأمول ، اولاً کشورهاي اسلامي وحدت ویکپارچګي خودرا حفظ داشته وبعداً دربي جلب توجه کشورهاي عقب افتاده دیګرشوند ویه اسم کشورهاي جهان سوم که الآن نیز مشهوراست همه رامتحدنګه دارند تا ازبلاي نظام امریکائي که بعداً مرعي الاجراخواهد ګردید جلوګیري بعمل آید .

امریکا ومتحدین اروپائیش درکوشش اند که سرمنشي ملل متحد، ازخودشان ویا ازممالك تحت نفوذ شان باشدتا دراجراي منشور ملل متحد منافع آنهارا درنظرګیرد .

انتخاب سرمنشي ملل متحد در اجلاس مجمع عمومي امسال صورت میګیرد ، امریکا و یاران اروپائي اش میخواهند که سرمنشي ملل متحدمتعلق به اروپاباشد چون در طول عمر سازمان ملل متحد ازبراعظم افریقاکسي به سمت سرمنشي ملل متحد نبود . ممالك افریقائي میخواهند که سرمنشي آینده سازمان ملل ازافریقاباشد تا ازحقوق کشورهاي جهان سوم وبخصوص افریقا که درطول تاریخ درمظلومیت قرارداشته اند به دفاع بپردازد براي نیل به این هدف باید کشورهاي اسلامي نقش بیشتري بازي نمایند ودروحدت جهان سوم بکوشند وازتکتازي امریکاکه به بزرګترین قدرت استعمارګرقرن مبدل شده است جلوګیري بعمل آید ودنیاي بشریت ازشرصهیونیزم درامان ماند .

وازطرف دیګربه تعداد ممالك شرکت کننده درشوراي امنیت افزوده شده وحق ویتوکه یك حق ناجایز است ازاعضاي نام نهاد دائمي شوراي امنیت ګرفته شود ودرازاي آن طبق معمول راي دوثلث آرادرهمه قضایاي جهاني که مورد بحث وفحص قرارمیګیرد درنظرګرفته شود تاسازمان ملل متحد به واقعیت به سازمان ملل متحد مبدل ګردد .

دکمبودیا ځیني جګړه ماروډلو دملګرو ملتو څخه غوښتني چي کمبودیا ته قوا ولیږي

کمبودیا : دوږي ۳۱ نېټه :

دکمبود یاجګړه ماروډلو غوښتنه کړېده چي دبرژردي دملګروملتو قواوي په کمبودیا کي واچول شي تر څو دکمبود یا څه باندي لس کلنه کورني جګړه ختمه شي.

په نیویارك کي ځیني رقیبي ډلي دملګرو ملتو ترسرپرستي لاندي دوسله والو ډلوپه خلع سلاح کولو باندي راضي نه دي اوپه دي کي برخه نه اخلي.

له بلي خوا په جنوب ختیځه آسیاکي دملګروملتومامورین وایي چي یو ځل دي دسولي موافقه بشپړه شي نوځغوي به دمهاجرو دمېشته کېدو بوغټ پروګرام باندي پریکړه کوي.

ددغه سولي په موافقه کي چي کورني جګړه ختموي د ۱۹۷۹ کال راهیسي کار روان دي.

دغه موافقه به داکتوبردمیاشتي په اخرکي په پاریس کي امضا ته تیاره شي.

مطلبی پیرامون جهاد

ترجمه از عدیل

جهاد ازکلمه جهد مشتق گردیده است که به مفهوم لغوي، به معني نهایت تلاش ورزیدن درانجام دادن کاري مي باشد . وبه اصطلاح شرعي به معني اجتناب ازاعمال زشت ودیگران رابازداشتن ازآن تعبیرمي گردد .

خداوند حکیم به مسلمانان حکم داده است که دیني راکه خودبه صداقت آن ایمان آورده اند، براي حفاظت وزنده نگهداشتن آن سعي بلیغ نموده ، همه توانائي خودرا درین راه صرف نمایند، واین عبارت معني جهاد درراه خدارا میرساند .

جهاد باتوجه به شرایط واوضاع ، اشکال وصورت هاي گوناگون دارد . مثلا گاهي شرایط طوري عیارمي گردد که ثبات خانواده وقوم برتعلیمات دین مشکل به نظرمیآید ؛ درهمچو شرایط سعي وتلاش درین رابطه بزرگترین جهاد محسوب مي گردد، هم چنان زمانیکه ملت اسلامي بنابرغفلت وجهالت ازدین فاصله بگیرد، سعي وتلاش غرض بیداري ، اصلاح وتربیه آن یکنوع جهاد بشمارمیرود.

به همین ترتیب باصرف مال وجان ، رسانیدن پیام دین خدابه کسانیکه ازآن کاملا غافل وبي خبرمانده اند نیز جهاد محسوب میگردد . هم چنان اگرگاهي درروي زمین درخطه ایکه نظم اجتماعي آن بدست مسلمانان قرارداشته باشد وشرایط آن وقت تقاضا کند که باید براي نصرت وحفاظت دین ، نیرو وقوت استعمال گردد ، درین صورت استعمال نیرو غرض نصرت وحفاظت دین خدا جهاد محسوب مي گردد . مگر براي اینکه این اقدام جهاد محسوب گردد، دوشرط لازم دارد . اول اینکه همه ئي این اقدامات براي تکمیل کدام هدف مادي ، یاروي تعصب قومي وملي نباشد بلکه خاص براي اعلاي کلمة الله صورت گیرد .

دوم اینکه این اقدامات مطابق احکام وضوابط مقرره جهاد انجام شود . اظهارحق دربرابر حکمرانان ظالم وجابر نیز جهاد گفته میشود که درحدیث شریف بنام افضل الجهاد یادگردیده است .

تمام اشکال واقسام تلاش هاي فوق براي حفاظت ونصرت دین جهاد محسوب مي گردد که عندالموقع بالاي هرمسلمان فرض مي گردد . خداوند مي فرماید : درراه خدا جهاد کنید، طوریکه شایسته است .

هم چنان پیامبراسلام صلي الله علیه وسلم روزي درخطبه فرمودند که ایمان به خدا وتلاش درراه خدا، افضل ترین اعمال مي باشد .

اگرچه همه اشکال واقسام جهاد حایز اهمیت است ، مگرجهادبالسیف ازجمله آن امتیاز به خصوصي رادارامي باشد که درانواع دیگربه ملاحظه نمي رسد، چه درین نوع جهاد، مسلمان جان، مال ووقت خودرا قربان میکند واین سه عنصر گران بهاترین سرمایه انسان راتشکیل میدهند .

